د (حسام ) پیام دآینده غورځنګ

# دکنفرانس اودهغه دپریکړنی اورغنده پریکړو اوتصامیمو په درشل کی

محترمو ملګرو اودرښتینی کیڼ اړخ دلاری نه ستړی کیدونکو لاروایانو.
لکه چی تا سو ته پوره معلوم دی ، اوه کاله مخکی زمونږ غورځنګ په هغه شرایطو او حالاتو کی چی دطالبی برلاسی زمونږ په هیواد کی مسلط وه او کیڼ اړخ لارویان دناامیدی اوبی سرنوشتی توره تړږمی کی لاس اوپښی وهل او له خپل ګران هیواد څخه دمهاجرت اویا هم دوتلو په حال کی وه سر را پورته کړل اوټولو کیڼ اړخ ، دموکرات ، وطنپال اوپر هیوادمینو روشنفکرانو ته بلنه ورکړ ، چی خپل صفونه سره نژدی کړی اود آزادی خواهی اوورورګلوی رپانده بیرق اوچت کړی اودخپل هیواد داولس ، اود بی وزلو اوزیار کښانو په پلوی خپل نه ستړی کیدونکی مبارزی ته نوی ښه ورکړی ، اودخلاصون لاره ولټوی ، له بده مرغه دوطن دګوند ځنی نیم لاری ملګری دخپل ناوړی اوشوم اهدافو په نظر کی نیولو سره دوطن دګوند ډیر شریف او پاک لارویان یی ناسم لاری ته رهبری کړل ، چی تا سی ټولو ته اوس لکه د ل مرپه څیر روښان دی.
دیادونی وړ دی ، چی لا تر اوسه ځنی ځنی خپل لاره ورکه کړی اود بی سرنوشتی شپی اوورځی تیروی ، اوحتا ځنی په دی باور هم وه چی امریکا اودهغه غربی یاران به زمونږ وران هیواد له سره به ودان کړی ،او په همدی پلمه نن هغه خوش باور اودنیمی لاری دوستان دهغه قسم خوړلی غلیمانو په قطار کی ولاړ او خپل لاره درښتینی کیڼ اړخو لارویانو څخه بیل اود تاریخ په لزنجار کی لاس اوپښی وهی .او خپل دړی لاپسی توروی.
ګرانو ملګرو ، زمونږ لار روښان اورښتینی دی ، اوهغه هوډ چی مونږ دمبارزی له پیل څخه کړی وه همغسی ټینګ او استوار په مخ ځو . هیله لرم چی دآینده غورځنګ دکنفرانس پریکړی د افغانستان دزحمتکشانو دژوند دسمون اوددی وضعی دراوتلو لاره هموار کړی.
زه په دی باور یم چی ددی کنفرانس ګډونکونکی ملګرو او دوستانو دهغه پوهاویاوتجربی په لرلو سره وشی کولای چی دملګرتیا په اتمو سفیر کی ټول ستونزی وڅیړی اوله ستونزو څخه دوتلو لاره هموار کړی ، اود خپل راتلونکی نسل دپاره دمبارزی سمه لاره په ګوته کړی ، او خپل وجدانی او انقلابی دندی په پوره ایمانداری سره سرته ورسوی.
زه یوځل بیا دآینده غورځنګ رهبری اودهغه په سر کی دګران اومحترم دانشمند دوکتور عبد الله )نایبی( اود غورځنګ له غړواوخپل دوستانو نه دزړه دکومی چی ددی کنفرانس دجوړیدو په درشل کی هلی ځلی کړی او کوی مننه کوم.
اوزه پخپل وار سره تعهد کوم چی دتا سو سره یوځای دخپل غورځنګ دلا پیاوړی کیدو په لاره کی له هیڅ ډول هڅی اواند څخه سر غړونه ونکړم اودکنفرانس دپریکړو ټول اسناد دخپل لاری مشعل اوراهنما وګرځوم . زه خپل دغه پیغام ددی لاندی خپل شعر سره سرته رسوم.

ای دخوارو اوبی وزلو پلویانو
ای د سمی لاری ګرانو عزیزانو
لار پیچلی ، ستا سی لوی عزم غواړی
را نژدی کړی خپل صفونه لارویانو
په یوالی سره رسی خپل هدف ته
ځانځانی ګټه نشته خوږ یارانو

هوښیاری سره ګامونه مو اوچت کړی
زر بری مو شی په برخه هوښیارانو
د نقاد نړی لید په روښانه رڼا کی
هرستونزه به شی حل حق پرستانو
*****************************
دآینده نهضت دکنفرانس د ښی لاسته راوړنی په هیله

حسام